مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

۲۰۲۲/۰۱/۱۹

# د پنجاب پوځي اشتبلیشمنټ ستراتیجستان

## د اغزن مزي په غځولو سره د طالبانو واکمني ګوابنوي او ننګوي




د انګرېزي نړیوالي امپراتورۍ 128 کلنه فرضي کرښه د تاریخ په اوږدو کې تل د افغانستان او پاکستان تر منځ سیاسي ناندرۍ او د جګړې ګواښونه رامنځته کړي دي. انګریزانو د برتانوي هند ځخه د خپلو کولونیالستي امنیتي ګټو خوندي ساتلو لپاره موقعتاً په کاغذ کې د ډیورنډ استعماري هوایي کرښه قصداً د پښتنو افغانانو په خاروه کې کښلې ده. وسمهال د پنجاب برغلګر رجمنټ پوځیان د انګرېزانو پر استعماري پل د ډیورنډ کرښې په صفري نقطو کې لس ګونه کیلومتره د افغانستان په خاوره کې د ننه د ناروا اغزن مزي تېرولو سره د لرو او بر پښتنو افغانانو پر ملي داعیې او ملي احساساتو باندې لوبې او سیاسي سوداګري پیل کړي، چې له امله یې یو ځلې بیا د طالبانو او پاکستاني چارواکو ترمنځ له تاوتریخوالي ډکې نوې ناندرۍ راټوکیدلې دي. دا به تاریخ ثابته کړي، چې د طالبانو دغه ډول حرکتونه نمایشي بڼه لري که رېښتیني مانا لري. ؟

د پنجابي پوځي اشتبلېشمنټ ستراتیجستانو په سر کې د پاکستان دفاع وزیر جنرال بابر ویلي: په هر صورت چې وي، د ډیورنډ پر کرښه د افغانانو په سیپڅلې خاوره کې اغزن مزي بشپړوي. د پاکستان د کورنیو چارو وزیر ویلي دي، د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې به اغزن تار غځولو پروژه د کابل په خوښه سرته ورسول شي.

پاکستاني پوځي اشتبلیشمنټ جنرالانو ژمنه کړي، څو پر ډیورنډ فرضي کرښه باندې د اغزن مزي لګولو لړۍ ته دوام ورکوي. دوی د خپل پوځي زور له لیارې غواړي د طالبانو لخوا د اغزن سیم لمنځه وړلو هڅې بې ارزښته ښکاره کړي. پاکستاني چارواکو ویلي، چې د ډیپلوماتیکو چینلونو له لارې د افغان طالبانو له واکمنانو سره خبرې اترې کوي، څو د دواړو هیوادونو په جلا کولو سره پر ډیورنډ کرښه باندې د اغزن تار نصبولو له کبله رامنځته شوي مخشوتیاوې ورحل کړي. د پاکستان بهرنیو چارو وزیر قریشي په اسلام اباد کې یوې خبرې غونډې ته وویل، هیواد یې هوډ لري، چې د خپلو ملي ګټو ساتنه وکړي او افغانستان سره پر شاخوا 2600 کیلومتره کرښه باندې یو اړخیز کټارو ته دوام ورکړي. دغه پاکستاني لوړ پوړي ډیپلومات د طالبانو د سرحدي ځواکونو لخوا د ورستیو د اغزن تار لمنځه وړلو ته په ځواب کې ویلي دي. قریشي په ټینګار سره ویلي، موږ غلي نه پاتې کیږو، موږ کټارې نصب کړي او د خدای په خوښه دا هڅې به همداسې دوام ولري.

د طالبانو پوځي مشرانو ویلي: پاکستان د اغزن تار غځولو حق نه لري او پر کرښه د یو اینچ مخته راتلو اجازه به ورنه کړي، همدارنګه له پاکستاني چارواکو ځخه غوښتي، څو د اغزن تار غځولو ځخه لاس واخلئ، د همدې نوبو ناندریو په درشل کې طالبانو خپل ځانګړي لښکر د بدري ۳۱۳ پوځي قطعه د ډیورنډ کرښې په دیرشو مهمو پوځي نقطو کې ځای پر ځای کړي. په داسې حال کې چې پنجابي جنرالانو د ظلم او زور په قانون په خپله خوښه په لسګونه کیلو متره د افغامستان په خاوره کې د اغزن تار ۹۴ سلنه کار بشپړ کړي او پاتې چارې به یې ډیر ژر بشپړې کړي.

په 1893 کال کې برتانوي امپراتورۍ په سویلي اسیا کې د خپلو امپریالستي ګټو او د خپلې امپراتورۍ د امنیت خوندي ساتلو لپاره دغه ۲۶۷۰ کیلومتره غیر قانوني کرښه د پوځي ګواښونو په زور سره د پښتنو افغانانو په زړه کې ویستلې ده. نن 128 کاله ورسته همدا خونړۍ استعماري کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تاوتریخوالي لامل ګرځیدلې ده. وسمهال د طالبانو سمه بیزو ځواکونو له لوري د پاکستاني پوځیانو لخوا د اغزن تار غځولو مخه نیولې شوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د طالبانو جنګیالیو په تیره میاشت کې د ننګرهار ولایت د لعلپورې په سیمه کې د ډیورنډ په صفري نقطو کې د پاکستاني سرتیرو د اغزن تار غځولو مخه ونیوله او د پاکستان په وړاندې د خپلو ځواکونو تیارسئ امر ورکړي دی.
یوه ورځ ورسته پاکستاني سرتیرو په سیمه کې د اغزن سیم نصبولو هڅه بیا وکړه.
د 1893 کال راهیسې په افغانستان کې پرلپسې د افغان شاهي او جمهوري حکومتونو د برتانوي استعمار لخوا د کښل شوي کرښې سره خپل مخالفت څرګند کړي دی. دا استعماري کرښه د برتانوي هند د بهرنیو چارو یو مامور سر مورتیمر ډیورنډ او د انګېزانو تحت الحمایه افغان واکمن امیر عبدالرحمن خان ترمنځ پرته له دې چې د افغان ولس څخه د یوې لوی جرګې له لوري رائیه واخیستل شي، د یوې پټې پوځي استعماري هوکړې پایله کې رامنځته شوي ده.
پاکستان د افغانانو اعتراضونه تل ردوي او وايي، چې په ۱۹۴۷ کال کې له برتانیې پلاره او هندوې موره د زیږیدو ورسته دغه کرښه یې په مېراثي بڼه کې نیولې ده.

طالبان په دې ډېر ښه پوهیږي، چې د بریتانوی امپراتورۍ د ګټو د ساتلو لپاره 128 کاله مخکې کښل شوې خونړۍ استعماري کرکیچني کرښه باندې د پنجابي پوځیانو له لوري اغزن تار غځول لرو برو پښتنو افغانانو ته څه مانا لري او د دې اغزن سیم په تېرولو سره پنجابي پوځیان څه ستراتیجکي موخې لري. ا
د تاریخ په اوږدو کې افغان ولس او افغان حکومتونو ته کله هم د خپلو پرلپسې خونړیو ناورینونو یرغلونو له کبله دغه فرصت په لاس کې نه دی ورغلی، څو د پاکستان سره د پښتونستان مسئله په قانوني توګه را پورته کړي. وسمهال ډېر نړیوال او سیمه ییز سیاسي څارونکي، سیاستپوهان، د منځني ختیځ انیستیتیونو خبرې رسنۍ او استخباراتي څیړنېز راپورونه دې پایلې ته رسیدلي دي. چې په سیمه کې یو شمېر بنسټېزه برخلیک ټاکونکې پوښتنې مطرحه شوي دي او په سیمه کې ستر ستر بدلونونه د راتلونکې په اړه را راوان دي. د پاکستاني پوځیانو پام دې ټکی ته ځښتې ډېر دی.
پوښتنه دا نه ده، چې پښتانه افغانان به یو ځای یو ګډ ملي غښتلې دولت جوړ کړي او که نه ؟
اصلي پوښتنه دا ده، چې دوی به کله او څنګه یو ولسواکه پیاوړي ملي مرکزي دولت رامنځته کړي.؟
پاکستاني پوځیانو د اغزن مزي پروژه د ترهګرۍ ضد جګړې تر نامه لاندې په امریکا د پروېز مشرف حکومت لخوا طرحه او پلان شوي ده. امریکایانو د پروېز مشرف په وړاندېز د ترهګرۍ ضد جګړې تر نامه لاندې د ډیورنډ په صفري نقطو کې د اغزن تار غځولو مالي لګښتونه تمویل کړي او په سیاسي او پوځي لهذا یې ترینه ملاتړ هم کړي دی. هغمهال پروېز مشرف د اسرائیلو جمهور رییس شارون سره په پټو ناستو کې د دې خونړۍ استعماری کرښې په اړه د صلاح مشوره تر لاسه کړي وې، چې څنګه د افغان ولس پر زړه دغه ناروا غزن تار راتاو کړي. لکه څنګه چې اسرائیلي پوځیانو په سپیڅلې فلسطیني خاوره کې همدا ډول ناروا اغزن مزي غځولي دی.
د پاکستاني جنرالانو د ستراتیجکي ژورې پالیسي اصلي موخه د پښتنو قبایلو غوښتنې کومې، چې د خپلې مورنۍ خاورې سره بیرته یو ځای کیدل او د یو ځواکمن پښتون افغان ملي دولت جوړیدو مخه نیول دي. همدا وجه ده، چې پاکستاني جنرالانو تل د پښتنو د هیوادپالنې، د یووالي پاک احساسات، ملي خپلواکي خوښوونکې غورځنګونه په بې نامه او بې نښانه احساساتي کانالونو کې راتیټ کړي، ویشلي او نستلي دي. پاکستان تل په افغانستان کې په سیاسي، اقتصادي او پوځي برخه کې یو کمزوري ماتیدونکي، په کورنیو چارو او کورنیو کوکیچونو کې بوخت یو پاکستان پلوي حکومت غوښتي او ملاتړي ترېنه کوي. ځکه پاکستان په خپله له خپل پیداینښته په نړۍ کې د جبهو، جګړو او په کرکیچونو راګیر یو ماتېدونکی دولت پیژندل کیږي. پاکستان خپل راتلونکي په پخواني یوګوسلاویا د برخلیک په څیر ګوري. همدا وجه ده، چې د ډیورنډ کرښې کرکیچ د پاکستان ستراتیجي ژورې پالیسی کې خورا ډېر اهمیت او ارزښت لري.

د طالبانو د دفاع وزارت یوه ویاند د پاکستاني پوځیانو د اغزن تار لګولو پروژې نیوکې وکړې، او ویلې دي، پاکستان حق نه لري، چې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې اغزن سیم ولګوي او د کرښې دواړو غاړو ته یو افغان ولس پروت دی او دا پراته ولسونه او قومونه باید سره بیل نه کړل شي. د طالبانو د ختیځ زون د سرحدي ځواکونو قوماندان پر ډیورنډ کرښه د اغزن تار غځولو په هکله د قریشي د څرګندونو په غبرګون کې ویلې، چې اجازه نه ورکوي، پاکستان دا لړۍ بشپړه کړي. د ډیورند فرضي کرښې په اوږدو کې به د پاکستاني پوځیانو هر دول چلند به بې ځوابه پاتې نه شي. نوموړي ویلي دي، چې په هیڅ صورت به اجازه ورنه کړو، چې دغه اغزن مزی تېر کړي، هر څه یې چې کړي دي، له دې مخکې یې کړي، خو نور اجازه نه ورکوو، چې یو اینچ هم مخته راشي. او زیاتوي، چې پاکستاني لورى له ډیرو کلونو راهیسې د خپلو موخو لپاره په کونړ کې پر عامو وګړو توغندیزه بریدونه ترسره کړي دي، خو تر دې ورسته به له سخت غبرګون سره مخامخ شي. داسې ښکاري، چې طالبان پاکستان ته پر ډیورنډ کرښه د کتارو لګولو یا اغزن تار غځولو اجازه نه ورکوي.

که څه هم د پاکستان د ایکسپرس ټریبون ورځپاڼې خبر ورکړي و، چې پاکستان او طالب چارواکو په لوړه کچه د ډیورنډ کرښې د اغزن تار په اړه پټه هوکړه کړي ده او دغه هوکړه د طالبانو له لوري د اعزن تار له شلولو یا له منځه وړلو ورسته رامنځته شوي ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د طالبانو او پاکستاني پوځیانو ترمنځ پر ډیورنډ کرښه یو ځل بیا د اغزن تار لګولو پر سر نښته شوې ده.
په تیره اوونۍ کې د پاکستاني او طالب ځواکونو ترمنځ د ډیورنډ پر کرښه د اغزن تار لګولو ورسته دوه ځلې د افغانستان په لویدیځ نیمروز ولایت په چهار برجک ولسوالۍ او د ننګرهار په لعلپوره سیمه کې نښتې شوي دي، چې ګواکې پاکستاني پوځیان افغان خاورې ته یې د اغزن تار غځولو هڅه کړې ده. په ننګرهار کې د پاکستاني پوځیانو اغزن تار رنګ کړ او خبر داری ورکړ، که پاکستان په افغان خاوره کې اغزن سیم تیروي، نو دوی به له دې سر سختو غبرګونو سره مخامخ شي. د افغان رسنیو په حواله، پاکستاني پوځیانو د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د وګړو د تګ راتګ د مخنوي لپاره ډېرې پوستې جوړې کړې دي. د سیمې اوسېدونکو ویلي دي، چې پاکستاني پوځیانو تر پینځلس کیلومتره پورې د افغانستان په خاوره کې پرمختګ کړی او غوښتل په دې سیمو کې نورې پوستې جوړې کړي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ویلي دي، موږ له افغانستان سره په پوله کې کټارې لګولې او دا به دوام ولري.
طالبانو پاکستان ته خبرداری ورکړی، چې پر ډیورنډ کرښه نور د اغزن تار لګولو اجاره نه ورکوي. د طالبانو یوه سیمه ییزه قوماندان ویلي، موږ به په هیڅ صورت کې د کټارو جوړولو اجازه ورنه کړو. هر څه چې پاکستان کړي دي، هغه وکړل، خو نور اجازه نه ورکوو. د طالبانو د بهرنیو چارو ویاند د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر څرګندونو په ځواب کې ویلي، چې پر ډیورنډ کرښې د اغزن تار لګولو په اړه له ډیپلوماتیکو لارو خبرې اترې وشي.
په همدې موخه کابل نن ته د پاکستان د ملي امنیت سلاکار د پاکستاني پوځي اشتبلیشمنټ پلاوي سفر وځیدید، نوموړي غوښتل څو د طالب چارواکو سره پر ډیورنډ کرښه د اغزن تار او ځینو نورو موضوعاتو په اړه خبرې اترې وکړي.
د طالبانو ویاند، ویلي دي، چې اصلي ستونزه دا ده، چې پاکستان پر ډیورنډ کرښه نه، بلکې په یو شمېر سیمو کې، چې د افغانستان په خاوره کې دي اغزن تار غځولي او تیروي.
پاکستاني پوځي اشتبلیشمنټ په دې ډیرښه پوهیږي، چې افغان حکومتونه او افغانان ولې د یورنډ کرښې سره مخالفت کوي. تر اوسه هیڅ افغان حکومت ان همدې تېر پخوانی حکومت او هم د طالبانو اوسني رژیم په ګډون هیڅ افغان حکومت د ډیورنډ کرښه له پاکستان سره د نړیوالې کرښې په توګه په رسمیت نه ده پیژندلې. د همدې اغزن مزي لګولو پروژې له امله څو ځلې د افغان پخواني حکومت امنیتي ځواکونو او پاکستاني پوځیانو تر منځ د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې مرګوني نښتې شوي دي.

په 1947 کا کې کله چې پاکستان جوړ شو، د ډیورنډ کرښه ورته په میراث کې پاتې شوه. افغانستان تل د ډیورنډ کرښې قانونیت او مشروعیت تر پوښتنې لاندې راوستلې دی، ځکه د دې تړون هوکړه د برتانوي ٍهند سره، نه له پاکستان حکومت سره ترسره شوي دی. د پاکستان د جوړیدو سره دغه تړون لغوه شوي دی. هیڅ قانوني اعتبار نه لري. تر دې وړاندې هم کله چې انګرېزي امپراتورۍ له هند څخه د وتلو لپاره چمتووالي او تیارياني نیولې. د افغانستان هغه مهال شاهي دولت د خپلې پښتني سیمو د بیرته تر لاسه کولو، تر خپلې واکمنۍ او ولکې لاندې راوستلو غږ پورته کړو. د برتانوي امپراتوري مامورینو دغه خبره منلې وه، خو برتانوي استعمارګر پوځیان کوم چې د پاکستان په نوی حکومت کې پاتې شوي وو، د پنجاب په پلوي خبرې کولې، ویل: افغانستان ته د دې سیمو بیرته ستنولو چارې باید د پاکستان د نوی چارواکو سره مطرح شي.
افغانستان په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړیتوب پر ضد خپله رائیه وکارلوله. استدلال یې دا وه، چې اسلام اباد باید تر هغو په رسمیت ونه پیژندل شي، ترڅو د پښتونستان مسئلې نه وي حل کړي. له همدې مهاله اسلام اباد هڅه کوي، څو ډیورنډ کرښې ته رسمیت او مشروعیت وکړي او د افغانستان هر ډول قانوني غوښتنې او ادعاوې ردوي.
یو شمېر د نړیوالو کار پوهان دا هم را په ګوته کوي، چې د ډیورنډ کرښه تړون هیڅکله د دواړو خواوو د مقننه ځواکونو له لوري نه دی تصویب شوي او له همدې امله د نړیوالو منل شویو قوانینو له مخې د منلو وړ نه دی. له یوې خوا د ډیورنډ کرښه پاکستان ته د بلوڅستان د بدایه صوبې د طبعيي زېرمې لار خلاصوي او له بلې خوا په تاریخي توګه کابل له عربي سمندر یا سمندرې ستراتیجکي لارې بې برخي کوي. په داسي حال کې پښتانه په نړۍ کې یوه ستره توکمیزه ټولنه ده.
لنډه دا چې پاکستان ویلي دی. د افغانستان به خاوره کې اغزن تار سره د طالبانو له مخالفت سره سره دې کار ته به دوام ورکړي. ګورو به چې د طالبانو واکمني څومره خپلواکه او په خپلو ژمنو ولاړه ده.
د پاکستان له دې امله د افغانستان په خاوره کې اغزن مزي تېروي، څو افغان چارواکي پر ډیورنډ کرښه خبرو اترو او د رسمي پولې ټاکلو ته اړ کړي.
د پنجابي پوځیانو اشتبلیشمنټ جنرالانو او ستراتیجستانو دغه لیواني اغرن خوب به تر هغه پورې ترسره نه شي، تر څو یو پښتون افغان ژوندی وي. پنجابي جنرالان په دې ډول ناروا کړنو سره د افغان ولس د هیواد پالنې ملي او وطني احساسات نه راپاروي او نه ژبلوي. ځکه د کرښې دواړه خواو ته له پیریو پیریو راهیسې نه بیلیدونکی پښتانه قبایل افغانان اوسیږي. پنجابي پوځیان او ستراتیجستان د دې هڅه نه کوي، څو د خپلو ناکامو ستراتیجي پلانونو په لړ کې د اعزن تار په غځولو سره د لرو برو پښتنو افغانانو د سترې کورنۍ د غړو ترمنځ د تګ راتګ او د اړیکو مخه ونیسي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ